# د تصوف او فلسفي ترمنځ کرښې او اړیکې

**لیکوال: پوهیالی سراج احمد ژواک**

**لنډیز**

تصوف او فلسفه که له یوې خوا د هستۍ د حقیقت پېژندنې او موندنې لپاره دوې بېلابېلې پوهې دي او تر منځ یې د بېلتون سره کرښه موجوده ده؛ خو له بلې خوا دومره نېږدې اړیکې سره لري، چې د دې دواړو علومو پر بېلابېل ګڼلو د ګروهمن ګروهه ښایي ځینې وختونه آن له نیوکو سره مخامخ کړای شي. هسې خو له لویه سره د هر علم بنسټ په یوه فلسفی اند خامخا ایښودل شوی وي، چې دلته یې هم ښایي اغېزې پر تصوف له هماغه لومړیو څخه موجودې وي.

زموږ ډېری څېړونکي چې د اسلامي علومو څخه پرته په نورو کې علم نه لري، دا فکر کوي چې تصوف یوازې د اسلامي دین سره غاړه غړی دی، خو له دې نه دي خبر، چې په هر دین، مذهب او ګروهه کې یې څرکونه له ورایه ښکاري، چې د دې هر یوه د اصولو سره سم یې تصوف د روح او باطن حیثیت غوره کړی دی (۳/۲۰)؛ ځکه د بشر دا خاصیت او

ځانګړنه ده، چې له عذابونه څخه د ځان ژغورنې او خلاصون لپاره یوه وسیله لټوي، چې هغه وسیله له تصوف پرته بل څه نشي کېدای، زموږ تصوف هم د اسلام د مبارک دین له اصولو سره سم رامنځته شوی او څوک چې پر دې اصولو تر نورو ښه پابند وي، ښه متصوف هم دی.

**بنسټیز ویونه: تصوف، فلسفه، عین الیقین، علم الیقین او حق الیقین .**

**سریزه**

صوفیانه او فلسفیانه اندونه که څه هم ډېری داسې دي، چې په الفاظو او کلیمو کې نه شي راتلی؛ ځکه د دا ډول اندونو ګروهمن زموږ او تاسو سره خپلې تجربې شریکوي او لکه څنګه چې ښایي هغه سې، د خپلو تجربو بیانول او څرګندول په الفاظو او کلیمو کې ناشوني وي؛ ځکه الفاظ د بیان ناقصه لړۍ ده؛ خو بیا یې هم د ډېرو څېړونکو پام ځانته ور اړولی او د ډېرو سره یې په هکله پوښتنې شاربل شوې دي. زما سره هم تر ډېره وخته پورې د دې دواړو علومو یو او بل ته د نېږدې ګڼلو ګروهه موجوده وه او تر ډېره وخته مې دا فکر کاوه، چې د دې دواړو علومو تر منځ د برید کرښه راښکل به ډېر ستونزمن وي؛ د وخت په تېرېدو سره بیا هم دې پایلې ته ورسېدم، چې دا دواړه علوم که له یوې خوا سره بېل دي، نو له بلې خوا ډېرې نېږدې اړیکې هم سره لري؛ ځکه له لویه سره د هر علم تر شا حتماً یوه فلسفیانه مفکوره موجوده وي او په دې توګه فلسفه د ټولو علومو مور ګڼل کېږي. خو دلته لکه څرنګه چې مو په لنډیز کې اشاره ورته وکړه، چې په هر دین، مذهب او ګروهه کې تصوف د هغوی د اصولو سره سم موجود دی، زموږ په مبارک دین کې هم تصوف د هغه د اصولو او پرنسیپونو سره سم رامنځته شوی، چې زموږ موخه به هم دلته له تصوف څخه اسلامي تصوف او له فلسفې څخه آره فلسفه، کوم چې معنویاتو ته په کې پام کېږي؛ نه د ځینو مادیونو فلسفه وي.

**تصوف**

تصوف د لغت له مخې د عربي ژبې له صوف (وړۍ) څخه اخیستل شوی دی او د اصطلاحي پېژند په توګه یې لاندې پېژندونه شوي دي:

«تصوف له مخلوق څخه مخ اړول او له خدای (ج) سره تعلق ټینګول دي.»
حضرت جنید بغدادی(رح)
«چې نه ته د څه شي مالک او نه څه شی ستا مالک وي، دا تصوف دی.»
حضرت سمنون (رح)
«اجمالي چارې تفصيلي کېدل او استدلالي علم کشفي کېدل تصوف دی.»
حضرت بهاوالدين نقشبند(رح) (۱۸/۷)

هغه څوک چې د لومړي ځل لپاره د «صوفي» په صفت سره وویاړل شو، هغه محمد هاشم عثمان بن شريک کوفي ؤ؛ کوم چې د دويمې لېږديزې پېړۍ په خوا و شا کې يې په اړه دا کليمه کارول شوې، خو دا په دې معنا هم نه ده، چې تر دې وړاندې تصوف او خدای پالنه نه وه؛ بلکې په هر مذهب او ګروهه کې يې روح او حقيقت موجود ؤ، خو په نوم يې کوم څه نه وو.

**فلسفه**

د فلسفې اصطلاح له آره يوناني ده، چې د همدې ژبې له دوو کليمو (فيلوس) او (سوفيا) نه جوړه ده، (فيلوس) محبت او (سوفيا) حکمت ته وايي. له دې مخه د فلسفې لغوي معنا شوه له حکمت سره مينه. فيلسوف هغه څوک دی، چې حکمت يا پوهې سره بې کچې مينه ولري. روايت د دې اصطلاح را منځته کوونکی فيثاغورث ګڼي، هغه غوره وګڼله، چې ځانته د حکيم پر ځای د (حکمت مين) ووايي، دې خبرې ته خيال په کار دی، تش د حکمت د شتوالي له کبله څوک فيلسوف نه جوړېږي؛ بلکې د حکمت شديد طلب او شوق يې فيلسوف جوړوي. سقراط چې د فلسفې لومړی شهيد دی دعوه کوي، چې لوړ حکمت خو پر دې خبره پوهېدل دي، چې ته په هيڅ نه پوهېږې، ريښتينی فيلسوف پر خپل حکمت فخر نه کوي، هر ريښتينی فيلسوف په خاکسارۍ سره حکمت لټوي او ورسره لېونۍ مينه کوي. د فلسفې حکمت د پوهې حکمت نه دی، ممکنه ده، چې د ډېرو واقعاتو په اړه يو چا سره علم وي، خو له حکمت سره يې مينه نه وي. دا هم شونې ده، چې يو د پراخو معلوماتو څښتن له هغه چا نه بېخي کرکه وکړي، چې د حکمت لټون کوي او پرې مين وي. فيلسوف يوازې د واقعاتو په علم نه قانع کېږي، هغه د واقعاتو بشپړتيا غواړي او د بديهي واقعاتو لاندې چې کوم ترتيب او تنظيم موجود دی هغې ته رسېدل غواړي. (۶/ ۱۴۲، ۱۴۳)

**د تصوف او فلسفې ترمنځ کربنې**

د تصوف او فلسفې ترمنځ توپیرونه هم په طرز او اسلوب کې تر سترګو کېږي او هم په سوژه او سکالو کې؛ د طرز او اسلوب له مخې فلسفه پر استدلال او منطق سره غواړي چې د هستۍ واقیعتونه پرته له دې چې ورسره یو ځای شي وپېژني او تصوف یې پر عکس غواړي چې د شهود او کتنې په مرسته یې هم ومومي او هم ورسره یو ځای شي.

په ټوله کې تصوف او فلسفه دواړه د انسانانو سره د حقیقت په موندنه او پېژندنه کې مرسته کوي؛ خو فلسفه په دې برخه کې یوازې نظریې ورکوي او تصوف بیا په کې عملي درس؛ یعنې فلسفه تیوریکي اړخ لري او تصوف عملي هغه.

دا چې تصوف او فلسفه دواړه د هستۍ د حقیقت موندنې او پېژندنې په موخه را منځته شوې پوهې دي؛ نو ځرنګه چې حقیقت موندنه او پېژندنه پرته له تفکر څخه ناشونې وي، نو د دې دواړو پوهو پوهان هم لومړی په کایناتو او فطرت کې تفکر کوي؛ لکه اپلاتون چې وایي: «د زمان او مکان نندارہ د فلسفې هدف او غایه ده.» (۶/ ۱۴۲)

خو که چېرته په ژور نظر ورته وکتل د تصوف هدف هم بل څه نه ښکاري، صوفیان هم له وجود څخه موجد او له مخلوق څخه خالق ته الهي سیر کوي؛ یعنې د دواړو د حقیقت موندنې سرچینه کاینات او فطرت دی؛ خو تر ډېره بریده بیا د دې حقیقت موندنې پایلې دواړو ته بېل بېل څه ور په ګوته کوي. فیلسوفان یوازې د واقیعاتو لاندې چې کوم ترتیب او تنظیم موجود وي، هغې ته رسېږي او صوفیان یې بیا پر عکس د ترتیب او تنظیم موندنې تر څنګ آن د پنځګر تر ذاته پورې سیر کولای شي.

فیلسوف د هستۍ د حقیقت پېژندنې او موندنې لپاره له خپلو دوو وسیلو «عقل» او «حواسو» څخه کار اخلي؛ خو متصوف پرته له دې دوو وسیلو له یوې بلې وسیلې «زړه» څخه کار اخلي او که چېرته یې په مرستې سره د حقیقت تر بریده ونه رسېږي، بیا نو د هستۍ د حقیقت موندنې لټون پرېږدي؛ ځکه انسان ضعیفه دی او د حقیقت درک تر هغه حده کولای شي چې شوني وي. خو پر عکس یې ډېری فیلسوفان تر دې وروسته هم د حقیقت د موندنې په لټه کې کېږي، آن تر هغې چې ځینې خو په کې له خپلې آره لارې منحرف او د کفر او الحاد په لاره روان شي؛ ځکه په قران کریم کې ډېر ځای پر دې

ټینګار شوی چې انسان ته لږ علم ورکړل شوی او په دې لږ علم سره نه شي کولای چې تر بشپړه حقیقته ځان ورسوي؛ لکه په دې مبارک آیت کې: «ویسئلونک عن الروح قل الروح من امر ربی و ما اوتیتم من العلم الا قلیلا» (بنی اسرایل سورت / ۸۵آیت)؛ یعني اې پیغمبره دوی له تا څخه د روح په اړه پوښتنه کوي ته ورته ووایه چې روح د الله سبحانه و تعالی یو امر دی، تاسې ته یې په اړه علم نه دي درکړل شوی او که درکړل شوی هم، نو ډېر لږ درکړل شوی.

د دغه آیت شریف څخه څرګندیږي، چې انسان ته لږ علم ورکړل شوی، باید د هستۍ د حقیقت موندني او پېژندنې لټون تر هغې کچې وکړي، چې ورته شوني وي او له هغې ور اخوا پر غیبو باید ایمان راوړي. د قران کریم همدغه ارشاد مسلمان متصوفین په نظر کې نیسي او د هستۍ د حقیقت پېژندنې او موندنې لټه تر هغې بریده کوي، چې ورته شوني وي. خو فیلسوفان بیا په دې برخه کې د خپل وجود نیمګړتیاوو ته نه ګوري؛ له بلې خوا پورته مو ذکر کړل چې فلسفه نظري اړخ لري او انسان ته دهستۍ د حقیقت په موندنه او پېژندنه کې یوازې نظریې ورکوي. خو تصوف عملي هغه او انسان ته په دې برخه کې عملي درس ورکوي؛ نو اوس چې کله د هستۍ پر حقانیت د دې دواړو یقین راشي، نو د فیلسوف یقین به علم الیقین او د متصوف یقین به عین الیقین او بالاخره حق الیقین وي.

په تصوف کې یقین هغه مرحله ده، چې صوفي د معنوي عالم واقیعت بې له تردید څخه مني او په درې ډوله دی: علم الیقین، عین الیقین او حق الیقین.

۱.علم الیقین: هغه یقین ته وایي، چې یوازې د پوهې له لارې یقین حاصل شوی وي؛ لکه یو څوک چې چاته ووایي چې اور شی سوځي، خو ده په خپله نه وي لیدلی، چې اور شی سوځي؛ مګر علماً یې یقین راغلی وي.

۲.عین الیقین: هغه یقین ته وایي، چې څوک یو شی په خپلو سترګو ووینې چې په اور وسوځېد.

۳.حق الیقین: هغه یقین ته وایي، چې یو څوک په خپله په اور سوځي.

د صوفي د یقین احساس د حق الیقین مرحله ده؛ یعني په سلوک کې د علم الیقین او عین

اليقين له مرحلو څخه تېر شوی دی. د مشاهدې او حق اليقين مرحلې ته چې د (فناء) د مقام اصطلاح هم ورته کارېږي رسېدلی دی. (۳/ ۹۷)

په فلسفه کې د يوې هستۍ د پېژندنې او حقيقت په باب پرته له دې، چې انسان يې په حواسو سره درک کړي، په اړه يې معلومات ورکړل شوي؛ خو په تصوف کې عملاً پرې محسوس شوي دي؛ لکه: ابوعلي سينا بلخی به چې ويل: «پر هغه څه چې زه پوهېږم ابوسعيد ابوالخير هغه ويني.» (۷/ ۷۶)

دا ځکه چې د ماوراء الطبيعه نړۍ ادراک يو معنوي ادراک دی او دا هغه څه دي، چې په ضمير او وجدان پورې تړلي او په وجداني حس او ايمان پورې اړه لري، چې په دې ډګر کې د فلسفې لاره چاره په پنځه ګونو حواسو او عقل باندې تکيه لري، هيڅ ګټه نه شي رسولای، خو تصوف يوازينۍ لاره ده، چې د خدای (ج) په مرسته انسان حق اليقين ته رسوي او دا ځکه چې له تصوف څخه موخه د زړه د هېنداري پاکوالی او د نفس تزکيه او د زړه تجلی ده، تر هغو پورې چې د هستي او کايناتو د خالق وجود حس کړي او الهي نور داسې په کې روښانه شي، چې هغه په ډېر ډاډ سره په حقيقت پوه کړي، نو همدا وخت دی چې زړه د الهي فيض په تودخه پوهېږي او هغه احساسوي او د همدې فيض تودوخه نومړی حق اليقين ته رسوي. (۸/ ۳۶)

فلسفه پر تصوف يوه دا ښېګڼه لري، چې په کې زده کړې موضوعات او مسايل کولای شي، له نورو سره شريک کړي، خو په تصوف کې دا چاره ناشوني ده؛ ځکه صوفي د حقيقت په موندنه کې له يو لړ داسې مشاهدو او تجربو سره مخامخ کېږي، چې پر ژبه يې راوړل ناشوني وي او که څوک يې د بيانولو او ورزده کړې هڅه وکړي، نو د منصور حلاج په څېر به د دار سره مخامخ شي.

د دې دواړو علومو موخې هم سره بېلې دي. د فلسفې پوهان يوازې د حقيقتونو درک او پېژندل غواړي، خو د تصوف هغه د حقيقتونو د پېژندنې او درک ترڅنګ د هغوی سره وصال او يوځای والی هم غواړي. ډېری فيلسوفان پر عقل او استدلال سره د خدای تعالی (ج) د وجود او وحدانيت تر حقيقته رسېدلي دي، خو د هغه تبارک و تعالی د وصلت او د ايمان راوړنې هڅه يې نه ده کړې.

**د تصوف او فلسفې ترمنځ اړیکې**

تصوف او فلسفه د هستۍ د حقیقت موندنې او پېژندنې لپاره دوې بېلابېلې پوهې دي، چې پوهان یې په دې پار د پلي کېدو او زده کړې هوډ کوي، چې له روحي اضطراباتو څخه د ژغورنې او نجات لارې ومومي.

څرنګه چې د دې دواړو پوهو د پوهانو موخه د هستۍ د حقیقت موندل او پېژندل دي او دا حقیقت پر ته له تفکر څخه ناشونی وي، نو ځکه د دې دواړو پوهو پوهان هم لومړی په کايناتو کې تفکر کوي؛ نو بویه چې اړیکې یې هم یو د بل سره په دې ډګر کې تر بلې هرې خوا ډېرې نېږدې وګڼلې شي. دا بیا بېله خبره ده، چې یوازې صوفیان له دې لارې د هستۍ تر بشپړ حقیقته (الله سبحانه و تعالی) پورې رسېږي او له ځينو څخه پرته چې هغوی یې هم یوازې د وجود احساس کوي؛ ډېری فیلسوفانو ته د دې پلټنې ثمره په هغه توګه چې لازمه ده، په لاس نه ورځي؛ خو تر ټولو لومړی یې یو او بل ته د دې دواړو پوهو د نېږدې کېدو ډګر همدا ګڼلی شو.

د تصوف او فلسفې ترمنځ له ګډو اړخونو څخه ښه اخلاق هم دي. کوم چې نه یوازې پرې د دې دواړو پوهنو اډانه ولاړه ده؛ بلکې د اسلام د مبارک دین په ټولو اصولو او فرعو کې هم یو نه بېلېدونکی عنصر ګڼل شوی دي؛ لکه څرنګه چې تصوف د اسلام نه کوم بېل شی نه دی او په اسلام کې تر ټولو هغه څوک ډېر خدای (ج) ته نېږدې دی، چې ښه اخلاق ولري؛ نو ځکه په تصوف کې هم هغه څوک تر نورو ښه متصوف ګڼل کېږي، چې اخلاق یې تر نورو ښه وي؛ لکه د تصوف په پېژند کې چې حضرت محمد بن علي بن ابي طالب (رح) یې ارزښت او ځای ځایګي ته داسې نغوته کړې ده: «تصوف د ښه خوی دویم نوم دی؛ څوک چې په ښو اخلاقو کې له تا څخه زیات وي، هغه په تصوف کې زیات دی.» (۱۸/۷)

حضرت ابوالحسن نوري (رح) هم په تصوف کې د ښو اخلاقو د ځای او ارزښت په اړه فرمايي: «تصوف د علم و فن نوم نه، بلکې د ښو اخلاقو د مجموعې نوم دی.»

په فلسفه کې هم ښه اخلاق همدومره ارزښت لري؛ لکه څومره چې په تصوف کې یې لري؛ د دورانت په قول د فلسفې پلار او لومړني شهيد سقراط به ماوراء الطبیعه څېړنې فلسفي موضوعات نه ګڼله، بلکې په فلسفه کې یې یوازې ښه اخلاق او سیاست شامل بلل، چې منطق یې سریزه وي. (۱۹۳/۲)

د سقراط شاګرد افلاطون هم پردې ګروهمن ؤ چې: «د اخلاقو د قانون مراعات کول د الله تعالی (ج) سره د انسان اړیکې څرګندوي؛ یعنې اخلاق هغه هڅې او کوښښونه دي، چې بشري روح یې حتی الوسیع خدای (ج) ته د نېږدې کېدو لپاره په کار اچوي.» (۲/ ۱۹۹)

د تصوف عاملین چې کله په مادي نړۍ کې له هر څه څخه ناهیلي شي او د دې دنیا هر څه ورته بې ګټې څېز ښکاره شي، نو په خپل ذهن او خیال کې د ځانونو لپاره د داسې جهان په جوړولو لاس پورې کړي، چې هلته پرته له ښکلا، مینې، بشر دوستۍ او اخلاقو څخه بل څه نه وي. (۵/ ۳۱۶)

راځه، چې یوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
راځـه، چې د وصال جوړه دنیا کړو په دنیا کې
د ګــل په خـاموشۍ او د بلـبلو په نـــوا کې
پیدا چې د خندا نورافشاني کــــړو په ژړا کې
ترهغه ګورو یو بل ته چې ورک شو په یو بل کې
راځـه، چې یوه جوړه کړو جونګړه په ځنګل کې
امیر حمزه «شینواری»

د فلسفې د بنسټ اېښودونکو له ډلې څخه اپلاتون هم د ځان لپاره یوه داسې مدینه فاضله «جمهوریت» جوړ کړی ؤ، چې هلته پرته له پورتنیو آرونو څخه بل څه نه چلېدل؛ چې تر نن ورځې پورې د نومړي د همدغه آرمان د بشپړاوي په موخه د هغه د لارې هر لاروی په یو نه یو ډول هڅې کوي.

د اپلاتون نه یوازې پورتنۍ عقیده د اسلامي تصوف سره ورته والي لري؛ بلکې داسې ډېرې نورې نظریې یې هم څرګندې کړې، چې هو به هو د اسلامي متصوفینو له نظریاتو سره ورته دي؛ د بېلګې په توګه د اپلاتون او د اسلامي تصوف د وحدت الوجودي ګروهې د سرلاري ګروهمن ابن عربي (رح) دې سره ورته نظریو ته ځیر کېږو؛ اپلاتون وایي: «الله تعالی (ج) د کایناتو پر (حجم) او (بعد) باندې احاطه کړې ده.» (۲/ ۱۹۹) ابن عربي (رح) هم فرمایي:

«د هغه ذات لپاره د خارج او داخل سوال نه پیدا کېږي، ځکه حق په هر څه محیط دی. څه چې دي د هغه علمي معلومات او د خارجي جهان تصور ځکه پیدا شو، چې د حق معلومات چې

د حق په اسم «هوالباطن» کې وو، نو هیڅ تعیین او امتیاز یې نه درلود، بلکې عین ذات ؤ؛ لکه ځاځکی په سیند کې، خو چې کوم وخت د حق اسم «هوالظاهر» ته راغلل، نو ټولو د یو او بل وجود محسوس او مشاهده او له همدې څخه د کایناتو تصور پیدا شو، خو په حقیقت کې هغه ذات «الان کما کان» دی، نه ترې څه بېل شوي او نه ورسره یو ځای شوي. (۷/ ۴۱– ۴۲)

د پلاتون او ابن عربي (رح) د دواړو په پوره ته نظریو کې وینو، چې خدای تعالی (ج) پر کایناتو باندې احاطه کړې ده؛ د قران کریم ډېر آیتونه هم پر دې ګواهي ورکوي: چې الله سبحانه و تعالی پر کایناتو محیط دی؛ د بېلګې په توګه یې دې مبارک آیت ته ځير کېږو: «... الا انه بکل شیءٍ محیط»؛ یعنې الله تعالی پر ټولو شیزونو احاطه کړې ده. (حم السجده سورت / ۵۴آیت)

د پلاتون دا لاندې نظر هم د اسلامي تصوف د وحدت الشهودي ګروهې د باني مجدد الف ثاني (رح) د نظر سره ورته دی؛ چې وايي: «د جهان ټول شیان چې وینو د یوه ابدي، ازلي خالق سیوری او تصویر دی، بل شی نشته او پر دې (مثال) باندې علم درلودل فلسفه ده.» (۲/ ۱۹۹)

مجدد الف ثاني (رح) هم فرمايي:

«د کایناتو وجود، د بېلا بېلو آثارو او صفاتو ظهور د واحد مطلق د ذات او صفاتو عکس العمل او ظل (سیوری) دی، چې پر عدم پرېوځي یا منعکس کېږي، خو دا سیوری په خپله د سیوري څښتن (صاحب ظل) نه دی، بلکې محض یو مثال دی.» (۷/ ۳۸)

ومو لیدل چې د فلسفې د علم د رامنځته کوونکو له ډلې څخه د پلاتون ځینې نظریې تر ډېره بریده د اسلامي تصوف د وجودي او شهودي ګروهو د رامنځته کوونکو ګروهمنو سره یو ډول دي؛ نو اوس موږ هم په ډېر ډاډ سره ویلای شو، چې بویه د اسلامي تصوف پوهانو د کره کتنیز اند پر محک د پلاتون دا ډول ځینې ځینې خبرې خو د تصوف اصلي مرغلرې وګڼلې شي.

**پایله**

د پایلې په توګه په ډېر وسوق سره ویلای شو، چې تصوف او فلسفه د هستۍ د حقیقت موندنې او پېژندنې په موخه را منځته شوې دوې بېلابېلې داسې پوهې دي، چې له یوې ډډې یې ترمنځ د بېلتون قرمزي کرښې او له بلې هغې یې ډېرې نېږدې اړیکې ډېر باریک-بین نظرونه هم په توهم کې اچولای شي؛ ځکه د دې دواړو پوهو پوهان خپلو موخو ته د رسېدو په پار په یوې سرچینې (کایناتو) کې د خپلو نظرونو نیلي ځغلوي او له دې لارې خپلې موخې ته چې هغه د

هستۍ د آر حقیقت او واقیعت پېژندنه او موندنه ده ځانونه رسوي.

فیلسوفان پر دې سمندر د استدلال او منطق د نیمګړو وسیلو په مرسته د دغې لعلونو د پېژندنې او متصوفین پرته له دې وسیلو د شهود هغو، د موندنې په موخه ور ګډېږي. دا او دې ته ورته ګڼې نرۍ او پرېړې پولې چې کله کله یې زموږ د ناځیرتیا خړ سېلابونه سره ګډوي هم، د دې دواړو پوهو تر منځ ایستلای شو.

## اخځلیکونه


۱. قرآن کریم

۲.ایوبي، نادر. (۱۴۲۶). **فلسفه**. کوټه: صحاف نشراتي مؤسیسه.

۳.ایوبي، نادر. (۱۴۳۴). **عرفان**. کوټه: صحاف نشراتي مؤسیسه.

۴.ځلمی، محمد ولي. (۱۳۸۷). **د کندهار مشاهیر**. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.

۵.روهي، محمد صدیق. (۱۳۸۶). **ادبي څېړنې**. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۶.سالک، مصطفی. (۲۰۱۳). **منشور** (کره کتنه). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

۷.ناګار، فضل ولي. (۱۳۸۸). **عرفان او د پښتو ادب په لرغونې دوره کې یې څرکونه**. ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه.

۸. نقشبندي، علاء الدین. (۱۴۳۱). **د تصوف حقیقت او د نقشبندیه طریقې یو بحث**. ژباړه محمد بشیر دودیال. کابل: میوند خپرندویه ټولنه.